آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۱۵

# لارورکي لارويان

## شپاړسمه برخه

## په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

### د استاد الفت شپاړسم تلين:

د استاد الفت د شپاړسم تلين لومړنی خبرې په ځو تيرو ادبي غونډو او شخصي ليدنو کتنو کې طرحه شوې وې. د همدې مقدماتي خبرو په پای کې وپتيل شوه چې د استاد الفت شپاړسم تلين به د يو سيمينار په ترڅ کې نيول کيږي؛ نو هماغه و چې د ۱۳۷۲ کال د قوس په ۲۲ (د ۱۹۹۳ م کال د دسمبر۱۳) ماښام د روسي پښتو پوه استاد ګيرس کور ته دغه کسان د د کتابونو د اخستلو او مشورو له پاره ورغلو:
لطيف بهاند، زرين انځور، استاد محب، ممتاز ارمان او آصف بهاند.
ما له ډيرو پخوا کلونو څخه، کله چې په کابل پوهنتون کې محصل وم او بيا همالته تدريسي غړی شوم، د استاد ګيرس نوم اوريدلی و؛ خو په همدې ورځ مې د لومړي ځل له پاره وليد، مخامخ ور سره وغږيدم او خبرې مې يې واوريدلې.
د ګيرس کور د يو موزيم بڼه درلوده. هر څه شاعرانه او په خاص نظم سره اينودل شوي وو، خو نه په روسي ستايل او انداز، بلکې په ځانګړي افغاني ستايل:
ـ ځو ځايه په ښکلي خط ليکل شوي «بسم الله الرحمن الرحيم» او راځړول شوی و،
ـ د پښتني اتڼ ښکلي عکسونه،
ـ د افغانستان له ښکلو درو څخه د اخستل شويو عکسونو ښکلي منظرې،
ـ د افغانستان د تاريخي آبداتو ښايسته عکسونه،
ـ له لرګو څخه د جوړو شوو اوښانو کتارونه،
ـ په پښتو ژبه ګڼ شمير چاپ شوي کتابونه،
ـ په خپله ګيرس،
او... د دې موزيم قيمتي شيان وو.
د استاد ګيرس د ناستې کوټې يا لوست خونې په ليدلو سره هر څوک په دې پوهيدل چې دا د يو افغانستان پوه او پښتو پوه د ناستې ځای او د کارخونه ده.
د خبرو په پيل کې ګيرس له موږ څخه د افغانستان، په تيره د وران او اوړ اخيستي کابل د حال پوښتنه وکړه. حتی د ټاکلو کورونو، ځايونو او ودانيو نومونه يې يادول او پوښتنه يې کوله چې دا ځايونه وران وو که ودان؟
وروسته له دې پوښتنو څخه مو د الفت د تلين موضوع ورته ياده کړه، ده په ډيرې مينې او زړه سوي د مرستې وعده وکړه او موږ ته يې د مقالو د ليکلو په خاطر دغه کتابونه په واک کې راکړل:
ـ د پښتو مناثره،
ـ لوړخيالونه اوژورفکرونه،
ـ اوسني ليکوال،لومړی اودويم ټوکونه،
ـ غوره نثرونه،
ـ غوره اشعار،
ـ دزړه وينا.
په همدې ورځ له ده څخه وغوښتل شول چې دی د الفت په محفل کې په دې وغږيږي چې په پخواني شوروي اتحاد کې په الفت باندې څومره کار شوی دی. ده هم ومنله. د ده له کور څخه د تيليفون په کرښه له ګراسيموا څخه هم د مرستې غوښتنه وشوه چې په غونډه کې ګډون وکړي او يو څه وليکي، هغې هم موافقه وکړه.
لطيف بهاند او زرين انځور د ۱۳۷۲ کال د قوس په ۲۴ (د ۱۹۹۳ م کا ل د دسمبر ۱۴) نيټه باندې د الفت صاحب د سيمينار په اړوند له استاد ليبيديف سره وليدل. هغه هم وعده وکړه چې يو څو به دا سيمينار د ختيځ پيژندنې په انستيتوت کې، د ليبيد يف په مرسته جوړيږي او بل دا چې دی به «د استاد الفت ژبه» تر سر ليک لاندې يوه مقاله هم ليکي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او با لاخره د استاد الفت د شپاړسم تلین ورځ را ورسیده او له پلان او پروګرام سره سم د ۱۳۷۲ کال د قوس د اته ویشتمي ورځې (۱۹۹۳ م دسمبر ۱۹) په دریو بجو د سیمینار پرانستونکي غونده جوړه شوه. د غونډې مشري ښاغلي عبدالله شادان کوله. ده په پیل کې په ماسکو کې د تر سره شویو فرهنګي کارونو په اړوند معلومات وړاندې کړل. وروسته له هغه یې د رواني غونډې د جوړیدو پر اړتیا او څرنګوالي خبرې وکړې او بیا یې په لنډ ډول د استاد الفت بیوګرافي ولوستله.

په سیمینارکي لومړنی مقاله د استاد نومیالي وه . دې مقالي دوې برخې درلودې:

لومړۍ برخه یې د نومیالي او الفت د لیدو کتو د خاطراتو ګزارش و.

بله برخه یې د استاد حبیبي هغه لیک و چې د محصل په نامه په بیلابیلو خپرونوکي خپورشوی و.

بیا مشهور ختیځ پیژندونکي، پښتو پوه، د آسیا افریقا د انیستیتوت د آریایي ځانګي مشر استاد لیبیدیف خپله مقاله چې «د الفت د آثارو ژبه» تر سر لیک لاندې لیکل شوې وه، واوروله. د ده مقاله ډیره لنډه وه.

وروسته له هغه د کابل پوهنتون پخواني استاد رسول جلالزي ته وار ورسید چې مقاله یې «د الفت په اشعارو کې د وطن مینه» تر سر لیک لاندې لیکل شوې وه.

ور پسې اعظم رهنورد زریاب خپله مقاله واوروله. ده د استاد الفت د ژوند او آثارو په باب د خبرو کولو په ترڅ کې د دې یادونه وکړه چې دی د لومړي ځل له پاره د الفت له نامه سره څنګه آشنا شو. زریاب د استاد الفت د شخصیت په بیلابیلو اړخونو باندې تر دغو سر لیکونو لاندې رڼا واچوله:

۱ – از رهګذر کار های دولتي،

۲ – از رهګذر کارهای سیاسي و اجتماعي،

۳ – از رهګذر آثار آفرینشي،

۴ – از رهګذرکار های پژوهشي و ترجمه،

۵ – از رهګذر کار های ژورنالستي.

وروسته له هغه داود جنبش د استاد الفت «زما خوب» تر عنوان لاندې شعر ولوست.

بیا استاد ګیرس خپله مقاله د«الفت زما په ژوند کې» تر سر لیک لاندې ولوستله. د ګیرس خبرې له دوو اړخونو د پام وړ وې:

یو خو تر پایه په پښتو وغږید،

او بله دا چې د پخواني شوروي اتحاد په حدودوکې یې هغه کسان وښودل چې په الفت باندې یې څیړنیزکارونه کړی وو.

ګیرس دا هم وښودله چې د ده په کار او آثارو کې د الفت اثر څومره جوت او څرګند و او دی او ده چیرته د چا په حضور کې له الفت صاحب سره خبرې او لیده کاته کړي وو.

وروسته له هغه «د الفت نثرعاطفه ده» تر س رلیک لاندې آصف بهاند خپله مقاله واوروله.

بیا د افغانستان د رادیوتلویزیون تکړه ویاندې زرغونه رسا د استاد الفت یو ټوټه نثر چې«جګ برجونه» نومیږی،ولوست.

وروسته له هغه ممتازارمان «د استاد الفت د شعر په ورشوکې» تر سر لیک لاندې خپله مقاله ولوستله.

ور پسې سپین تني د الفت څو رباعي ګاني واورولې.

بیا استاد ګیرس هیله وکړه چې د الفت یو شعر به له یو روسي شعر سره پرتله کړي. دغونډې وروستی برخه پوښتنو او ځوابونو ته ځانګړې شوې وه.

زما(آصف بهاند) خو داسي پلان و چې د دې سیمینار مقالي به د یو کتاب په بڼه چاپیږي، خو د مهاجرت چاپیریال او شرایطو زموږ لاسونه داسې را تړلي وو چې نه یوازې د کتاب د چاپ جوګه نه شوو، بلکې په سیمینار کې لوستل شوې مقالي هم له لیکوالو سره پاتې شوې.

د مهاجرت او خوارۍ مزدورۍ په اړ و دوړ کې لیکوال یاران لکه وچې پاڼې چې باد په هوا کړي، داسې سره خواره واره شول، چې بیا یې پیدا کول او یوځای کول نا شونی کار و. اوس چې زه هر لیکوال سره اړیکي نیسم را ته ویل کیږي چې هغه یادداشتونه زما په واک کې نه شته.

داوس له پاره یوازې زما خپله مقاله زما په واک کې ده. په دې مقاله هم زه داسې حساب نه کوم لکه په کابل کې مې چې کومې مقالي د معتبرو ماخذونو په شتون او د استادانو تر لارښووني لاندې لیکلي. دا مقاله مې د فرهنګي دوستانو په ډیر ټینګار او د ډیرو محدودو ماخذونو نه په استفادې سره، د خپلې حافظې په مرسته لیکلې ده. په مقاله کې د الفت په باب ښایي د ځینو څیرونکو نظریات راغلي وي چې ما په قوسینو کې نه دي نیولي، دلته زما مقصد ناوړه استفاده او د لوستونکو غولول نه دي، بلکې د دقیق ماخذ نه شتون و. په هر صورت دا مقاله په هغه وخت کې چې څه ډول لیکل شوې ده، کټ مټ یې دلته خوندي کوم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

# د الفت نثر عاطفه ده

## «کوچنیان باید په علم پسي ولاړ شي او د علم رڼا له ځان سره راوړي.»

(الفت)

په الفت باندې خبرې کول، د افغانستان په معاصرو ادبياتو باندې خبرې کول دي. په الفت باندې خبرې کول د پښتو د اوسني شعر او نثر پر تومني باندې خبرې کول دي. د ځيرنو له مخې د اوسنيو پښتو ادبياتو سر لاري دغه کسان ښودل شوي دي:

منشي احمد جان، ميراحمد شاه رضواني، استاد راحت زاخيلي، مولوی صالح محمد، عبدالحی حبيبي، استاد قيام الدين خادم، پاينده محمد زهير، جرار، روهيلي، ننګرهاری، صابرصافی، موسی شفيق، رشاد، ربنتين، بينوا او استاد الفت.

دغو خلکو په نوي ډول، د نوي وخت غوښتني او پوښتني په نثر کي طرح کړې دي. د دوی نثرونو ته کيدای شي د نويو ژانرونو په خوا د يو حرکت پيلامه و وايو.

استاد الفت د همدې دورې د نثر شهکارونه ايجاد کړل. الفت هم شعر ليکه او هم نثر. کله چي د ده ټول منثور او منظوم آثار له نظره تير کړو، ليدل کيږي چي د الفت نثر د ده له شعر نه اوچت دی.

د الفت د خلاقيت ډيره برخه د ده په نثرکي ده. کله، کله دی په شعر کي ډيرعالي مطالب رانغاړي، خو په نثر کي د ده تخيل ډير قوی دی. په حقيقت کي د ده تخيل، د ده په نثر کي ډير ښه ځليدلی دی.

غوره نثرونه د الفت د نثرونو شهکاردی. لوړخيال، هنري مزيت او ژور انتقاد د ده په نثرکي سره اوډل شوي دي. د الفت نثر ساده او روان دی او د ده په نثر کي که د فکر او معنی څه ښايست شته، هغه يې په ساده ګی او آسانی کي دی او په خپله الفت وايي چي دا آساني په ډيرو مشکلاتو لاس ته ورغلي ده.

الفت وايي چي:

«دغه نثر چي زه يې ليکم، څه ايغ نيغ حسن ځوک نه شي په کي موندلای، ټوله ښکلا او حسن يې په ساده ګی کي دی او که دا نثر رواج ومومي او نوي ليکوال دغه سبک غوره کاندي، ما به د خپل زيار او زحمت ډير ښه اجر موندلای وي او خوښ به يم چي يو څه خدمت مي وکړای شو.» (غوره نثرونه،د پښتو ټولني چاپ، د مقدمي ج مخ)

کيدای شي د الفت نثر له شعر سره سيالي وکړي. کوم وخت چي دی نثر ليکي، نو د فطرت ډير واړه او نازک دقايق ويني او ځرګندوي يې. د انسان د ټولنيز ژوند ډير اړخونه په داسي ژبه بيانوي چي لوستونکی د ده استدلال په ښه ډول قانع کوي.

د الفت په نثر کي کوم فلسفي يا تاريخي استدلال نه شته، خو د فطرت له هره ګوټه داسي دلايل او براهين راباسي چي تر هر ډول منطقي استدلال ښه او ټينګ وي. د ده هنر دا دی چي ځانته ځانګړې لار لري او د ژوندانه عادي پيښې د ده له پاره د شعر يا نثر ډيره ښه موضوع وي.

کله، کله د الفت نثر تر نظم خوږوي. خلک وايي چي نظم پيودل دي او يو ناظم مرغلرې پيي، خو الفت په نثر کي هغه لوړ کارکوي چي يو شاعر يې په شعر کي کولای شي. د ده نثر ډير ځلي له شعر نه هم ښه وي. علامه حبيبي د الفت د هنر ښيګني درې ښودلي دي:«

- جمال او ښکلا چي د الفاظو او کلماتو انتخاب او پيوندنه ده.
- ډير ښه او قوي استدلال چي د الفت له پاره د دنيا ټول مظاهر د استدلال ځرګندي نښې دي.
- انتقاد د ده د هنرغټه نښه ده.» (غوره نثرونه، د پښتو ټولني چاپ، د پيژندګلوئ د- هـ مخونه)

استاد بينوا په اوسني ليکوال کي د الفت پر نظم او نثر خبرې کړې دي او ده ته يې د دواړو هنرونو د استاد خطاب کړی دی. دی زياتوي:

«د الفت د نثر خوږې ټوټي له هره حيثه زړه وړونکي دي. دی په دې منثورو ټوټو کي اجتماعي دردونه په ښو اغيزناکو الفاظو بيانوي.» (اوسني ليکوال، لومړی ټوک،۹۲مخ)

د الفت د نثرونو د شکل په برخه کي بايد و وايم چي دا نثرونه د اوسنيو رايجو نثرونو قالب او پيروي نه ده، بلکي دا نثرونه د نويو ژانرونو خوا ته د حرکت پيلامه ده، د الفت د تخليقي آثارو له لوستلو وروسته ويلای شو چي الفت د اوسنيو پښتو ادبياتو يو لوی او مبتکر شخصيت و. دی د پخوانيو او اوسنيو ادبياتو تر منځ، د اتصال يوه نوی مبتکره کړی ده.

پښتو ژبي او ادبياتو ته الفت تر ټولو غوره ډالی غوره نثرونه دي.

که څه هم شعر او نثرد مانا له پلوه دوه متضاد کلمات دي، خو کله، کله سره ورته هم شي، دوستان هم شي او ملګري هم. همدغو نثرونو او شعرونو له الفت سره جفا او وفا هم کړې ده. کوم وخت چي الفت فکر کاوه او څه يې ليکل نو:

- له بچو او کورنی سره يې لږ وخندل.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

- د خپلو آثارو قيمت يي له چا و نه غوښت.
- هر چا ته بې ميني ښکاره شو.
- د څه ليکلو په فکر کي لمونځونه هم ور نه قضا شول.
- ډير ځلي يي خپل ليکلي شيان وشيرل، خو بل وخت يي د کاغذونو ټوټي د مطالبو د پوره کولو او سمولو له پاره سره برابرول.
- کله خپل فکر ور ته لوړ ښکاره شوی او کله يي بيا خپل فکر او خيال ته په حقارت کتلي دي.
- کله د يوي هديري يوه قبر ته تللی دی.
- ډير ځلي د يوه سيند د اوبو شرهاري ته ناست دی.
- دی راتلونکی نسل او راتلونکي ليکوال خپل اجر او لاس مزد شميري.
- او کله يوازي توب لوی نعمت ګني.
په دغسي حالاتو کي الفت نثر ليکلی دی.
الفت وايي چي:

«د ليکلو فن ډيري، ډيري جګرخونی لري او ډير ځله داسي کيږي چي يو ليکوال يوه شپه په وينه سبا کړي او يوه جمله پيدا کړي يا يوه ليکه هم و نه شي ليکلای.» (غوره نثرونه، ب مخ)

د الفت د نثرونو له ژوري مطالعي نه ښکاري چي دی د دوو نسلونو په منځ کي لوی توپير ګوري.
الفت وايي:«
که اولادونه ميندو غوندي وای،
له غرونو څخه به لالونه نه پيدا کيدل،
له دريابونوڅخه به مرغلري نه را وتلي،
له آبشارونو نه به بريښنا نه راوتله.
که څوک خپل زلمي زوی ته زړه بوډی په نکاح اخلي يا خپله پيغله لور اتياکلن بوډا ته ورکوي، ښه نه کوي.
زړه تربيه او نوی نسل همدغسي وګنئ.»
دا هم وګورئ:

## خدمتګار

«هلته يو ړوند بې لاري روان و، هغه په سمه لار برابر کړ، مګر ړوند پوه نه شو چي زما رهبر څوک دی.
يو بل په خواړه خوب ويده و، په خوا کي يي يو منګري سر را اوچت کړ، هغه په بيره و واژه او ويده هماغسي نا خبره پاتي شو.
د شپي په مسجد کي ناروغه مسافر زګيروي کول، هغه يي په خدمت کي شپه سبا کړه، مسافر سباوون خوا ته مړ شو او خپل زړه سواندی خدمتګار يي و نه پيژانده،
هغه په لاره روان و، يوه ماشوم ته يي يو موټی ميوه ورکړه،
يوه تږي ته يي په بيديا کي اوبه ورکړي،
له يوه وږي سره يي خپله ډوډۍ نيمه کړه،
مګر يوه هم و نه پيژانده، چي دی څوک دی.
له دي لويي لاري نه هغه ډير اغزي او کاڼي لري کړل، خو څوک چي سبا پردي لاره راځي د هغه له خدمت څخه نه خبريږي او هغه نه پيژني.
په رښتيا چي مونږ خپل خدمتګاران نه پيژنو او باداران ښه پيژنو.» (غوره نثرونه،۷مخ)

الفت د فکر آزادي ډيره لوړه ګڼي. دی وايي:

«زه د فکر آزادي له هر څه نه پورته ګڼم. هر څوک له ځانه خوابدي کوم، مګر خپل ځان او خپل وجدان خوشحاله ساتم.» (غوره نثرونه،۲۲مخ)

دغه راز استاد الفت مينه او عاطفه له هر څه نه لوړه ګڼي. الفت ښه ګټه د ميړو او پسونو په غوښه کي نهويني، بلکي د هغو په وړيو کي يي لټوي.
دی وايي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

«ښه ځير شئ، قصابي پرېږدئ. له مېږو او پسونو نه بل شان ګټه واخلئ. د وريوو له پوستکو نه پوستينونه مه جوړوئ. له وړيو نه يې ښه توکي جوړکړئ.»

د الفت ټول نثرونه ښه شعارونه دي. دی د پرمختګ او تمدن ښه مبلغ دی. ده يوازې د «خيرات» نومي نثر په ليکلو سره يې دومره لوی کار تر سره کړی چې لوی ګوندونه او اخبارونه يې نه شي تر سره کولای.
د زيارت ډيوې او د مزار لوحه يې د ناوړه دودونو پر ضد هغه بغاوت او چيغه ده چې آزانګې به يې پيړی پيړی اوريدل کيږي. دا هغه ډيوې دي چې تر اوسه د هغه لوستي په زړه کې بليږي چې يو وار يې د دغې ډيوې رڼا ليدلې وي. د زيارت ډيوې، د ذهنونو د رڼا کولو ډيوه دي، وګورئ:

## د زيارت ډيوې

«د جمعې مبارکه شپه وه. خلک زيارت ته تلل او ډيوې به يې بلولې. ځينو به په خاورينو ډيوو کې تيل اچول او ډيوې به يې لګولې. په زيارت کې ډيرې ډيوې روښانه شوې او خلک خپلو کورونو ته لاړل.
هلته هيڅوک پاتې نه شول او ډيوې ټولې د زيارت په ارواړ بلې وې. زه چې کور او کلي ته راغلم، په کلي کې د غريبانو کورونه تياره وو. هغوی تيل نه درلودل، ځکه په تورتم کې ناست وو. څوک چې په ثواب پسې ګرځيدل، ټولو د زيارت ډيوې ولګولې او د خوارانو غريبانو له حاله نا خبره وو.
هو! د غريبانو په کورونو کې تياره وه، ځکه چا نه ليدل.
په دوی باندې يوازې د خدای نظر و او بس.
د دوی ډيوې دې خدای ولګوي، موږ به د زيارت ډيوې بلوو.» (غوره نثرونه، ۴۱مخ)

الفت ماشومان له هر چا نه لوی او مهم ګڼل. د ده د نثرونو لوی هدف دا و چې بايد خلک د زمان په تقاضا ځان پوه کړي. الفت په خپلو نثرونو کې واقعاً د ژوند نغمې غږولې.
الفت خو هسې هم الفت و، خو که غواړئ الفت وپيژنئ، د ده له نثر څخه يې وپيژنئ، زما له نظره الفت وپيژنئ:

الفت غوره نثرونه دی،
الفت غوره اشعار دی،
الفت املا او انشأ دی،
الفت د زړه وينا ده،
الفت لاروی مدرس دی،
الفت ژوند دی،
الفت نوی نسل دی،
الفت فکري عابد دی،
الفت نوی درس دی،
الفت قوي او ضعيف دی،
الفت ښه ګټه ده،
الفت د اختروړځ ده،
الفت فاتح دی،
الفت اباسين دی،
الفت د کور ډيوه ده،
الفت لياقت دی،
الفت حقيقت دی،
الفت شعر او ادب دی،
الفت د ادب راز دی،
الفت نوی کال دی،
الفت نوی نيالګی دی،
الفت د فکر پالونکی دی،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

الفت د ژوند نغمه ده،
الفت نوی فکر دی،
الفت سپند دی،
الفت سبا دی،
الفت د پسرلي ګل دی،
الفت بي ګناه بندي دی،
الفت رواني اوبه دي.
الفت لوړ خيالونه او ژور فکرونه دي،
الفت شعراو فلسفه ده،
الفت قانون دی،
الفت ښه حاکم دی،
الفت مينه ده.
او...
الفت نثر دی،

د الفت نثر

زموږ د ګلو

د باغچو

د وللو ګلو عصاره ده

د الفت نثر عاطفه ده.

د شپاړ سمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ